د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

د موضوعي پاڼو لړۍ

# په افغانستان کې د ډموکراسۍ کره کتنه



انا لارسن

د ۱۳۹۰ لمريزکال

AREU

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې په هکله

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې میشته یوه خپلواکه څېړنیزه اداره ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالې درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپالیسی او چارومثبتې اغیزې او دمعلوماتو پراخول دي.

همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه د څېړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره نوموړې اداره د پالیسي جوړونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کونکو سره ددوی د څېړنېزې وړتیا د پیاوړې کولو او ددوی په مینځ کې د دې ادارې د څېړنو او کتابتون څخه د ګټه اخیستنې دترویج په موخه بشکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

نوموړې اداري په ۱۳۸۱لمریز کال په افغانستان کې د بوختو مرستندویه ټولنو په مرسته یې په کار پیل وکړ اود یو مدیره پلاوې درلودونکې ده چې د بسپنه ورکونکو ټولنو له خوا لکه ملګرې ملتونه او نورو څو اړخیزو ادارو، او نا دولتې ادارو له خوا یې استازیتوب کیږي. نوموړې اداره اوس مهال خپله اصلی بودجه د ډنمارک ، فنلند، ناروی، سویډن، سویزرلند او د انګلستان دحکومتونو څخه تر لاسه کوي. د افغانستان د پرانیستې ټولنې د انستیتیوت (FOSIA)، ایشیا فوندیشن (TAF)، اروپایې کمیسیون (EC)، او د نړیوالې پراختیا لپاره د څېړنیز مرکز (IDRC) له خوا ددې ادارې له ځانګړو پروژو سره مالی مرستې کیږي.


طرح او ډیزاین: نجیب یزدانی

ژباړونکی : ماری "شیرزاد"

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره دنشراتو مخصوص شمیره (۱۱۱۰P) دی.



© ۱۳۸۹ د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره. ځینې حقونه خوندي دي.دغه خپرونه بنایي د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې او د لیکوال د لیکلې اجازه لیک د تر لاسه کولو سره بیا خپره، د موندلو وړ سیستم کې زیرمه او یا یواځې د غیر-سوداګریزو موخو لپاره ولیږدول شي. چیرې چې دغه خپرونه بیا خپره، زیرمه او یا د بریښنایي لارې لیږدول کیږي، د افغانستان د څېړنې او ارزونې دادارې د ویب پاڼې اړیکه باید ذکر شي www.areu.org.af. او ددې خپرونې په کارول له نوموړې موافقې پرته ، د خپرونکې یعنې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې مخکینې لیکلې اجازه لیک ته اړتیا لري. دغه اجازه لیک کیدای شي د areu@areu.org.af او یا د ۰۰۹۳۷۹۹۶۰۸۵۴۸ شمیرې سره د اړیکې له لارې تر لاسه شي.

## د لیکوالانو په اړه

پاولا کانتور د کلیوالي معیشت د بدلون د څېړنې کوم چې دغه رپوټ یې په اړه لیکل شوی، اندول څېرونکې ده. نوموړې د ۱۳۸۷ کال د زمري له میاشتې څخه د ۱۳۸۹ کال د چنګابښ تر میاشتې پورې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د مشرې په توګه دنده تر سره کوله، تر دې وړاندې هغې د څېړنې او ارزونې د ادارې د جندر (جنسیت) او معیشت له څانګو سره د څېړنې د لوړپوړې مدیرې او د بریتاتیې د East Anglia د پوهنتون د نړیوالي پراختیا په پوهنځي کې د ټولنیزې پراختیا په برخه کې ښوونکې په توګه دنده تر سره کوله.

آدم پین هم په دې څېرنه کې اندول څېرونکی دی. نوموړي د تیرو شلو کلونو راهیسې د هیمالیا په سیمه کې د کلیوالي معیشتونو په اړه کار کاوه. هغه د بریتانیې د East Anglia د پوهنتون د نړیوالي پراختیا په پوهنځي کې د څېړنې لوړ پوړی همکار ، او د سویډن د کرهنیزو علومو د آپسالا د پوهنتون د کلیو او ښارونو د پراختیا په څانګه کې د کلیو د پراختیا ښوونکې دی. د هغه وروستی څېرنه په افغاني کلیوالو ټولنو کې د غیر رسمي پورونو پر جوړښتونو او د تریاکو د اقتصاد په شرایطو کې پر کلیوالي معیشت متمرکزه ده.

### کورودانی

لیکواله ددې رپوټ د لیکلو په برخه کې د خپلو ګڼ شمیر دوستانو او همکارانو له مرستې او وړاندیزونو څخه د زړه له کومې مننه څرګندوي. هغه په ځانګړې ډول د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د حکومتدارۍ د ډلې له کارکوونکو هر یوه: منیر سلامزي څخه د معلوماتو د راغونډولو د بهیر د ښه مدیریت په برخه کې، محمد حسن وفایي، فرید احمد بیات، انیسه نزهت او مریم صافي څخه د ډموکراتیک کولو له پروژې سره د هغوی د هر اړخیزو مرستو له کبله مننه کوي. هغه همدا راز د معلوماتو د راغونډولو او پوښتنو ته د ځواب ویلو په برخه کې د ننګرهار، غزنې او نیمروز په ولایتونو کې د میشتو OSDR او نړیوالې مرستې د ډلو له نه ستړې کیدونکو هلو ځلو څخه د زړه له کومې مننه کوي. په همدې توګه لیکواله د پاولا کانټور، نوح کاوبرن او سوګل زند له رغنده وړاندیزونو او په ورته ډول د بهرنیو بیا کتوونکو له سلامشورو او د تجربو له شریکولو څخه د زړه له کومې مننه څرګندوي. هغه په پای کې د اولیور لو او جي لمي له پراخې حوصلې او د تصحیح په برخه کې د هغوی له لوړې وړتیا څخه هم د زړه له کومې مننه کوي.

انا لارسن

د ۱۳۹۰ لمریز کال د وري میاشت

## د لیکوالې په اړه

انا لارسن په افغانستان کې د حکومتدارۍ او ډموکراتیک کولو په برخه کې یوه خپلواکه سلاکار ده. نوموړې د ۱۳۸۵ او ۱۳۸۹ کلونو تر مینځ د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د جندر(جنسیت) او په پای کې د حکومتدارۍ له ډلو سره د څېرونکې په توګه او له ۱۳۸۳ کال راهیسې په افغانستان کې د جندر او حکومتدارۍ د موضوع ګانو په اړه کار کوي . نوموړې د تاوتریخوالي، جګړې او پراختیا په برخه کې د لندن د SOAS له پوهنتون څخه ماستري لري او د YORK په پوهنتون کې چیرې چې هغه په افغانستان کې د ډموکراتیک کولو د بهیر په هکله زده کړه کوي د جګړې وروسته رغونې او پراختیا په برخه کې د دکتورا نوماند ده.

## اجرائیوي لنډیز

۱. په ۱۳۹۰ کال کې د ډموکراسۍ یا ولسواکۍ او د افغانستان کلمې په ښه توګه سره نه جوړیږي. په داسې حال کې چې دغه اصطلاح په زیاتیدونکې توګه د لویدیځو نه منل شوو ارزښتونو له تحمیل سره تړلې ده خو د ګڼو افغانانو لپاره د هیواد د ډموکراتیک کولو لس کلن بهیر د عدالت او مساوات د تأمین او د خدمتونو د لیږد په برخه کې د نه بریالیتوب له امله ناهیلې کوونکې ثابت شوی دی. دا د مرستندویې ټولنې تر مینځ، چې په افغانستان کې یې د ډموکراتیک کولو مفهوم هڅولی او د ټاکنیز بهیر لپاره یې مالي لګښت برابر کړی خو سره له دې داسې ښکاري چې له جګړې ځخه ستړو خلکو ته د وړاندې کولو لپاره ډیر څه نه لري، د ستړیا اوبیزارۍ له یوه احساس سره مل دی.

۲. سر بیره پر دې، دغه رپوټ استدلال کوي چې په افغانستان کې د سیاسي اصولو د پراختیا لپاره لا هم فرصت شته. همدا راز ادعا کوي چې ډموکراتیک کول یو بې پایه او داسې یو بهیر دی چې په پر له پسې توګه د لږ او ډیرو ډموکراتیکو قطبونو تر مینځ د بدلون په حال کې دی. په دې توګه ډموکراتیک کول په افغانستان کې( لکه د نور ځایونو په څیر) دې یا هغې لور ته د بدلون وړتیا لري. همدا راز رپوټ ادعا کوي چې که د ډموکراتیزه کولو بهیر په هیواد کې ټینګې ریښې هم ولري خو لازمه ده چې په کلکه توګه د افغانانو له لومړیتوبونو سره په مطابقت کې وي، چې ښایي زیاتره یې د لیبرال ډموکراسۍ له منل شوو اصولو سره په مطابقت کې نه وي. دې ته د رسیدو لپاره نوموړي رپوټ د ډموکراسۍ او د ډموکراتیک کولو په هکله د ښیرو ولایتونو د ښاري او کلیوالو سیمو په کچه د افغانانو د لید لوری په اړه دوه کلنه څیړنه سره یو ځای کړې ده. په داسې حال کې چې رپوټ د ټولو افغانانو د لید لوري د وړاندې کولو ادعا نه کوي، خو په معلوماتو کې درې مهمې برخې چې د هیواد د ډموکراتیک کولو پر راتلونکې بهیر مهمې اغیزې لري را سپړي:

۳. د بهرني تحمیل په وړاندې د افغاني مالکیت حق: د لویدیځ نفوذ د نښې په توګه د ډموکراسۍ له اصطلاح سره د خلکو عمومي دښمني او له ټاکنو او پارلمان ځخه پراخ هرکلی د پراخ بنسټه او حساب ورکوونکې حکومت د رامینځ ته کیدو د یوې لارې په توګه سره مطابقت لري. له بدلمنۍ او له حده وتلې آزادۍ سره په توپیر کې چې په لیبرال ډموکراسیو کې خپاره دي ، ګڼ شمیر خلک له اسلامي چوکاټ سره سم د ډموکراسۍ د پلې کیدو غوښتوونکې دي، که څه هم چې د دې کره ماهیت چې څه به په ځان کې رانغاړي په ندرت سره تعریف شوی او داسې ښکاري چې تر یوې اندازې د خبرو اترو لپاره پرانیستی دی.

۴. د امنیت او ثبات خوځوونکې ځواک: ډموکراتیک کېدون اوس مهال یو دوهم لیرې لومړیتوب دی څو و کړای شو له امنیتي پلوه په یوه لږه کراره سیمه کې د ځواب ویوونکو لپاره د ځورولو او تاوتریخوالي له ویرې پرته په خپلو ورځینیو چارو پسې ولاړ شو. دا ډول فوري اندیښنې د سیاسي سیالیو د پراخو ګواښونو په وړاندې چې ښایي د هیواد اوږد مهاله ثبات له پوښتنې سره مخامخ کړي هم موجود وو. سیاسي ګوندونه په دې برخه کې په ځانګړې ډول خطرناک ښکاري او ګڼ شمیر خلک د تصمیم نیولو د تر ټولو مشروع او سوله ییزې بڼې په توګه د نظر د یوالي د اصولو غوښتوونکې وو.

۵. د برابرۍ موضوع: د برابر استازیتوب مسأله د مخالفو نظریو د بحث موضوع وه، که څه هم چې تصمیم نیونې، او د خدمتونو او سرچینو د وړاندې کولو په برخه کې د برابرۍ په اړه یوه عمومي غوښتنه لیدل کیده خو د خلکو نظرونو په ځانګړې توګه د هیواد په ښاري او کلیوالو سیمو کې په دې اړه چې د مؤکلینو استازیتوب د چا له خوا او په څه ډول کیږي په پراخه توګه یې سره توپیر درلود. په پای کې د زیاترو خلکو د افغانستان د ډموکراسۍ او سنې متن ته د زور واکو د مقامونو دټینګولو لپاره لږ څه زیا ت له یوې لارې ځخه ګوري.

۶. آن په امنو سیمو کې ددې لومړیتوبونو او اصولو پلې کیدل به هم ستونزمن کار وي، دغه رپوټ د پالیسۍ لپاره وړاندیزونه نه وړاندې کوي او نه هم را ولاړو شوو پوښتنو ته ځواب ورکوي. که څه هم چې د عامو خلکو په نظر کې د خپلو شننو

پر بنسټ هیله من دی چې  په کابل کې د ډموکراتیک کولو په اړه  بحثونه د تصمیم نیوونکو له لومړیتوبونو او انګیرنو څخه ها خوا پراخ کړي څو پر دې تمرکز وکړي چې افغانان په خپله  له خپل سیاسي نظام  څخه څه هیله او غوښتنه لري.

د دغې خپرونې نسخې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې له دفتر
څخه په وړيا توګه تر لاسه کولاي شئ:
د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
د ګل پلورلو سړک ) د واټ څنګ( نوی ښار کابل، افغانستان
ټليفون: +٩٣ (٠) ٧٩٩ ٦٠٨ ٥٨٤
برښناليک: areu@areu.org.af